# د آسیا په زړه کی د امین او امینیانو د استبداد او استعماری او فاشیستی ځنځیر وروستی کړی ماته شوه

د حفیظ الله امین، زموږ خلکو او ګران وطن افغانستان ته ددغه خاین فاشیستی رژیم نسکور شو او د جنایتکارو امینیانو حاکمیت پای ته ورسید.
ببرک کارمل چی د افغانستان د خلک د دموکراتیک واحد ګوند د مرکزی کمیټی او د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د نوی انقلابی شورا له خوا د افغانستان د خلک د دموکراتیک واحد ګوند د مرکزی کمیټی د عمومی منشی او د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا د رئیس او صدراعظم په توګه وټاکل شو، په یوه وینا کی د امین د مرګبار رژیم او د ثور د ستر انقلاب د لوړو آرمانونو له مخی چی د خلکو رښتینی آزادی او مصئونیت او د ټولو دموکراتیکو طبقو او قشرونو حقوق تامینوی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا له خوا د حاکمه قدرت یعنی دولت د بیانیولو په باب داسی وویل :                ۶ر۱۰ر۱۳۵۸



بسم الله الرحمن الرحیم

زه ببرک کارمل د افغانستان د خلک د دموکراتیک واحد ګوند د مرکزی کمیټی، د افغانستان د دموکراتیک جمهوری شورا، د افغانستان د دموکراتیک جمهوری دولت او حکومت له خوا د حفیظ الله امین د امریکا ددغه سفاک جاسوس او ظالم دیکتاتور او عوام غولوونکی فاشیستی رژیم د مرګباره نسکوریدو او ړنګیدو له امله د افغانستان تاسی ځوریدلو وطنوالو او مستضعفو مسلمانانو ته سنی یاست که شیعه، د هیواد پاک زړی او متقی عالمان یاست که روحانیون د وطن د قهرمان اردو سربازان یاست که افسران،

وطن دوسته ملی سوداگر یاست که ملی پانګه وال، د افغانستان زیارایستونکی کسب ګر یاست که ننګیالی قومونه او قبایل، د وطن ګډه په شا شپانه یاست که کوچیان، دولتی مامورین، مخکښ روشنفکران او ځوانان، کارګری نارینه او ښځی، بزګر نارینه یاست که ښځی، پلرونه، میندی ورونه یاست که خویندی چی تر اوسه پوری د تاریخ د سړی وژونکی جلاد او شیاد حفیظ الله امین او امینیانو تر جغ لاندی وی درود لیژم او مبارکی وایم او نړیوالو ته اعلاموم چی د آسیا په زړه کی د امین او امینیانو د استبداد او استعماری او فاشیستی ځنځیر وروستی کړی ماته شوه او د آزاد او خپلواک افغانستان ملی پرچم زموژ د ورونو خلکو واحد بیرغ پښتانه دی که تاجک، هزاره دی که ازبک، ترکمن دی که بلوڅ، نورستانی دی که بدخشانی او په افغانستان کی نور اوسیدونکی وطنوال له برم او جلال څخه په ډک بریالی مارش سره یوځل بیا اوچت شو، د امین خلکو او وطن ته ددغه خاین یکه تاز او غاصب رژیم د خپلو جنایاتو تر فشار لاندی ټوټی ټوټی شو او د هغه طاغوتی او وحشیانه تومار وځپل شو، د امینیانو جنایتکارانو حکایت پای ته ورسید. د افغانستان د دموکراتیکه جمهوری انقلابی شورا د ثور د ستر انقلاب د لوړو ارمانونو په اساس، د افغانستان د ځنځیرماتوونکو او آزادو خلکو د ارادی په اتکا د ګوند او د خپلو ملی متحدینو د بریالی پاڅون په اتکا او د افغانستان د وطن پالو سربازانو او افسرانو په مرسته حاکمه قدرت یعنی دولت بیرته په لاس کی واخیست.
د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت انقلابی شورا په ټینګ عزم او ربښتینی باور سره اعلاموی چی د خلکو ربښتینی آزادی او مصئونیت د سیاسی بندیانو آزادی، ربښتینی دموکراسی، بیکارانو ته کار، کارګرانو ته د کار د شرایطو ښه والی او بزګر ته ځمکه به تامین کړی.
د هغو هیوادوالو د بیرته راستنیدو خوندی او مصون شرایط به لټوی چی د امین د خونړی دستګاه د ظلم او ستم له امله یی بهر ته کډه کړی ده، او د دولتی ضد جګړه مارو مسئله به له سیاسی لاری حل کړی.
د ټولنی د ټولو دموکراتیکو طبقو او قشرونو حقوق به چی سربازان، کارګران، بزګران، روحانیون، کسب ګر کوچنی متوسط مالکان ملی سوداګر، ملی پانګه وال، استادان، پوهان، لیکوال ډاکتران، انجنیران، هنرمندان، مامورین او نور وطنوال دی ژوندی او دفاع به یی وکړی.
د ژوند او سوله ایز کار د پیداکولو په لاره کی به ښارونو او کلیو ته د لومړنیو اړتیاوو په رسولو کی کوښښ وکړی.
د افغانستان د ټولو اوسیدونکو ملیتونو او قومونو حقوق د اسلام د مقدس دین او د روحانیت د ټولنی د ملی لوړو دودونو او رواجونو احترام، د کورنی او شخصی ملکیت د کانون اصل به په ربښتینی ډول تضمین او تامین کړی او د امینیانو جنایتکاران به د خلکو د قار او د ملت عادلانه او شرعی محکمی ته وسپارل شی.
د افغانستان د زرګونو ستم ځپلو، هیوادوالو مادی او معنوی زیانونه او وینه به جبران شی، انقلابی شورا د تاسو سربازانو، وړو ضابطانو او د وطن قهرمانو افسرانو ته بلنه ورکوی، هرچیری چی یاست د وطن د مهاجرینو او ستم ځپلو آواره ګانو د مسئلی تر حل او د کورنیو نا آرامیو او بحران تر له مینځه تلو پوری، په خپلو سنګرونو او نظامی بارکونو کی د کورنیو او بهرنیو دښمنانو د هرډول ناوړه مقصد په وړاندی او د ثور د

ستر انقلاب د افغانستان ددموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا د ملت او خپل وطن د شرف او ناموس څخه په سربښندنه دفاع وکړی، هوښیار، باانظباطه او متحد اوسی.
اجازه مه ورکوی چی د وطن د آزادی، خپلواکی او د خاوری د تمامیت دښمنان د تاسو په مینځ کی نفوذ او رخنه وکړی، ستاسو ملی او انقلابی دولت به ټول تدابیر ونیسی، چی د افغانستان د ملی آزادی ښښونکی اردو، اړتیاوی لری کړی او د سربازانو کورنیو حالت ښه کړی او د حزبی له ښکته نه پورته دولتی، نظامی، ملکی او غیر ګوندی غړو د حقوقو چی د خلکو د ګټو ضد او د ثور د ستر انقلاب ضد نه وی دریدلی او یا ونه دریږی ملاتړ وکړی.
ګرانو وطنوالو !
د افغانستان ددموکراتیک جمهوریت انقلابی شورا اعلاموی، چی حاکمه قدرت یعنی د افغانستان ددموکراتیک جمهوری دولت، د افغانستان په ټولو خلکو پوری اړه لری او په ډیر ممکن نژدی وخت کی به د افغانستان د خلک د دموکراتیک واحد ګوند د کارګری طبقی ګوند او د افغانستان د ټولو زیارایستونکو تر مشری لاندی د ټولو ملی او دموکراتیکو طاقتونو څخه پراخه جبهه جوړه کړی او د مترقی او وطنپالو ګوندونو او توده ییزو سازمانونو د جوړیدو د مطبوعاتو، بیان او غونډی د آزادی په ګډون په ټولی دموکراتیکی آزادی تضمین کړی. انقلابی افغانستان به د سوله ییز بهرنی سیاست، د مثبتی او فعالی بیطرفی سیاست تعقیب کړی او د نړی له ټولو ملتونو او دولتونو سره په لومړی درجه کی له خپلو ګاونډیو هیوادو سره د سولی او ملی دوستی د سیاست د اصل پر بنسټ د خپلی دوستی روابط پراخه کړی او ناوړو تفاهمو نه به لری کړی، په بین المللی ډګر کی به سولی، د خلکو د آزادی د ملتونو د خپلواکی او ترقی په جبهه کی، د جګړه مارو او ارتجاعی قواوو، امپریالیزم او صهیونیزم پر خلاف ودریږی.
د ملګرو ملتو د موسسی او د ناپیلیو هیوادو یو وفادار او فعال غړی او د نړی د زیارایستونکو مسلمانانو رښتینی او همرزمه دوست به وی.
د افغانستان او د نړی د هیوادو تر مینځ ټول شوی تړونونه او د ملګرو ملتو د سازمان منشور به تائید او رعایت کړی.
د وطن زیارایستونکو او بی وزلو خلکو !
دوستانو او قهرمانو ملګرو !
د افغانستان ملی آزادی ښښونکی اردو !
زمونږ جهاد یو ستر او عادلانه جهاد دی، د عدل او تقوا په لاره کی د افغانستان د خلکو جهاد دی.
پریږدی په دغه سپیڅلی جهاد کی زموږ د شهیدو او سترو نیکونو څیری زموږ د ویاړلی او سرلوړی وطن ګران افغانستان د آزادی د لاری د شهیدانو او غازیانو څیری او د ثور د ستر انقلاب د شهیدو، مشرانو ملګرو، اروابناد نورمحمد تره کی، میراکبر خیبر او زموږ د نورو شهیدانو او قهرمانو څیری تاسو ته قوت وبښی.
وړاندی د غاصبانو کبرجنو مستکبرانو، استثمارګرانو، او ورانکارانو، د پوره ماتولو په لور !
مړه دی وی نادری ستمګران او وینی څښونکی امینیان، مړه دی وی ارتجاع او امپریالیزم او د هغو ځنځیری سپی.

وړاندی د ثور د ستر انقلاب د سترو هیلو، د سولی آزادی، خپلواکی او دموکراسی کار او مبارزی ترقی او هوساینی، برابری او ورورولی او د افغانستان د خلکو د عدالت او نیکمرغی په لور.
دوستانو او ملګرو، د ثور د ستر انقلاب تر پرچم لاندی فیوډالی ضد، امپریالیستی ضد او کمپرادوری ضد، د ملی او دموکراتیک انقلاب د وروستی، بریالیتوب په خاطر د پوره او بشپړ یووالی او اتحاد په لور.
وړاندی، د نوی سرلوړی او آزاد او خپلواک افغانستان د جوړولو په لور.
بری د افغانستان د زیارایستونکو او استثمارشویو خلکو په برخه دی.
د تودو انقلابی سلامونو په وړاندی کولو سره.

* تایپ کامپیوتری از : ع . ق . فضلی

**هر نوع استفاده و نقل قول از بیانیه رفیق کارمل صرف با ذکر منبع و نام سایت «اصالت» مجاز است !**

www.esalat.org